پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۰/۰۸/۱۲م

# د افغانستان کانونه: لنډه پېژندنه

(دریمه برخه)

آب درکوزه و من تشنه لبان میگردم          یار در خانه و من گرد جهان میگردم

د دویمی برخی په تړاو

د افغانستان کانونه :

په ټولیز ډول دافغانستان دځمکی دوه پر دری برخه دلوړو غرنی زنځیرونو (سلسلو) ښاخونو پوښلی ده. پاته برخه یی هوار دښتونه، ریګیستانونه او غونډی ډوله لوړی ژوری دی. ددی ځمکی هری برخی ځانته دخپلو جیولوجیکی ځانګړتیاوو او امکاناتو سره سم طبعی شتمنی زیرولی او له خزانو ډکه لمن یی خپلو اوسیدونکو ته د سوغات دپاره ساتلی ده او داشرط یی هم ایښی دی چی دا سوغاتی جایزی به هغه چاته ورکوی چی وړتیا یی ولری. البته دا وړتیا د اوسیدونکو په کمال پوری اړه لری چی څومره کولای شی داشتمنی پیدا او دراسپړلو دپاره یی سوله ایز چاپیریال رامنځته کړی، داځکه چی طبعی شتمنی د چاپیریالی ناخوالوځخه بد وړی، مخ تری اړوی او ورنه تیښتی . لکه څنګه چی یاده شوه ددی خاوری لاندی جیولوجیکی جوړښت **د مندلیف د دوره ای جدول** دټولو عناصرو د رازیږولو جوګه دی چی نژدی ددغو ټولو آثار اونمونی پیداشوی او دموقعیت ځایونه یی دافغانستان د کانو د نقشی پر مخ ښودل شویدی . ځینی د نوموړی عناصرو څخه په لویه پیمانه شتون لری او د یو شمیر زیرمی یی دمعدن تر کچی پوری محاسبه او ارزولی شوی چی اقتصادی ارزښت یی هم د پام وړ ګڼل شودیدی . ځینی نور یی لاتر اوسه ( د اتیایمو کلنو د پیل تر وخت ) په علمی ډول دمعدن پنامه یادولای نشو ځکه چی یا دهغوی ذخیری محاسبه شوی نه وی او یا یی اقتصادی ارزښت د پام وړ ګڼل شوی نه وو . دپام وړ ده چی د یوه کان اقتصادی ارزښت یوازی د ذخیرو په کمیت پوری اړه نلری بلکه د راسپړلو د وخت تخنیکی امکانات او مارکیټنګ هم دلته پدی اړوند لوی رول لوبوی.

د افعفنستان کانونه کولای سو دوی ته د اړتیاوو له مخی په لاندی ګروپونو وویشو او په لنډ معلومات سره یی لوستونکو ته ور وپیژنو:

**اول – قیمتی او نیمه قیمتی ډبری:**

د قیمتی ډبرو له ډلی نه یاقوت ، زمرد او کونسیت او د نیمه قیمتی له ډلی څخه د لاجوردو کانونه دیادونی وړ دی :

الف – **یاقوت**: دکابل لودیز ته د جګدلک په سیمه کی د یاقوتو معدن پروت دی چی نسبتا پراخه سیمه یی نیولی . دمعدن څخه په فنی توګه ګټه اخیستل لا تراوسه پیل شوی ندی ، خو دودیز سپړل یی په یوه یا بل شکل د ډیرو کلنو را پدی خوا تر سترګو کیږی . دا یاقوت سور اناری ښکلی رنګ لری ، په اکثرو کرستالو کی یی د شفافیت درجه لوړه ده چی دایی دښه کیفیت ښکارندویی کوی . ویل کیده چی داشغال په کلونو کی وسله والو ډلو تری نه په وحشانه ډول کار اخیست .

ب – **زمرد**: ددی قیمتی ډبری ستر معدن د پنجشیر ولایت په یوه غرنۍ برخه کی پروت چی د ۱۶ کیلومترو په اوږدوالی او درو کیلومترو په پسور یی پراخه سیمه نیولی ده. کرستالونه یی اوږده چی کله ناکله تر دری څلورو سانتی مترو پوری او یا لدی نه هم زیات رسیږی چی د اوښو پشان زرغونه رنګ سره لوړ کیفیت او د زیوری ستندرد سره بشپړ سمون لری. دا معدن د۱۹۸۱ کال راهیسی د جګړه مارو پلاس کی وو چی په وحشیانه ډول یی ورنه ګټه اخیستل. تر هغه ځایه چی ما اوریدلی دی لا اوس هم دا معدن دولت ته په بشپړه توګه سپارل شوی ندی .

ج – **کونسیت**: ددی ډبری معدن د نورستان غرنۍ سیمه ده چی یوه ټاکلی ساحه نلری بلکه په سره پاشلی ډول یی کرستالونه یو ځای بل ځای تر سترګو کیږی. د نوموړی منرال شفاف بادنجنی او ګلابی رنګونه زیوری ارزښت لری او د قیمتی ډبرو په ډله راځی . پاته رنګونه یی دا کیفیت او ارزښت نلری .

د – **لاجورد**: دا یوه نیمه قیمتی ډبره ده چی په افغانستان کی یی پنځه معدنه شته او دا ټول د بدخشان په سرسنګ کی پراته دی. ددی معدنو څخه لاجورد د ډیرو پخوا زمانو راهیسی ترلاسه کیږی، حتی مارکوپولو پدی سیمه کی د خپل سفر په یاداښتونو کی د دی ښکلی ډبری یادونه کړی ده. افغانستان دنړۍ د لاجوردو په بازار کی د نوموړی ډبری د کمیت او کیفیت له مخی لومړۍ ځای لری او رانیونکی یی هم کم ندی. دا معدن هم د ۱۹۸۱ کال را پدی خوا د جګړه مارانو پلاس کی او په وحشانه ډول یی چپاول روان وو. اوریدلی می دی چی معدن اوس دولت ته یوازی په فورمالیټی ډول سپارل شوی، داستخراج لګښتونه یی د دولت پر غاړه دی خو ګټه یی هم هغه مافیا ترلاسه کوی. د لاجوردو تیز اسمانی شین رنګ تر ټولو غوره دی او چی کله د پایرایټ (طلایی رنګه ژړ منرال) واړه کریستالونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

ورسره وی نو صیقل شوی سطح یی داسی ښکاری لکه په شنه اسمان کی چی روښانه ستوری ځلیږی او داحالت یی دشاعرانو دتخیل رګونه ور تخنولای شی . لاجورد هم په زیوری او هم په تزیینی چارو کی کارول کیږی. په مارکیټ کی لاجورد د سرت بندی له مخی خرخیږی چی هر سرت یی ځانته جدا قیمت لری او سرت بندی یی په ترکیب کی د بیګانه موادو دشتون دزیاتوالی او کموالی پر بنسټ د فنی کسانو لخوا تر سره کیږی.

**دویم – نجیبه فلزات :** لدی ډلی نه په افغانستان کی سره زر ( طلا ) او سپین زر ( نقره ) یادولای شو . سپین زر لا تر اوسه د معدن په کچه موندل شوی ندی . ولی په ضمنی توګه د نورو معدنو تر څنګ په خال خال تر سترګو کیږی. د بیلګی په توګه د عینک دمسو په کان کی می ددی فلز وړی دانی زیاتی لیدلی دی.

په افغانستان کی د سرو زرو دری نسبتا واړه معدنونه شته لکه دتخار د سمتی معدن، د غزنی د زرکشان معدن او د پکتیا د میرزکه معدن . داسی څرګندونی شته چی د زرکشان له معدن نه ان د سلطان محمودغزنوی په پادشاهی کی کار اخیست کیده او خپل جنګی لګښتونه یی پری پوره کول. دامعدنونه په رسوبی توګه سره را ټول شوی او ترلاسه کول (استحصال) یی عنعنوی شکل لری چی د زر شویی پنامه یی یادوی. فنی استخراج یی لا تر اوسه پیل شوی ندی.

**دریم – پولی میتال معدنونه:** ددی ډلی نه سرب، جست او یو شمیر نور دی چی معدنونه یی واړه خو اقتصادی ارزښت لری. په غور او کندهار کی ددی موادو معدنونه پیدا شویدی.

**څلورم - محروقاتی ( دسوزیدو وړ ) او انرژیتیکی مواد:** پدی ډله کی د ډبرو سکاره ، تورف ، نفت او ګاز راځی چی معدنونه یی دهیواد په شمال کی پراته دی :

**الف** – د ډبرو سکاره : دکر کر، دود کښ، اشپشتی، دره صوف، شباشک او دهرات د ډبرین سکارو معدنونه د هیواد اړتیاوی د لویه لاسه پوره کولای شی چی ځینی یی لکه دشباشک سکاره د کوکس کیدلو قابلیت هم لری.

**ب -** تورف: دا مواد نارسیدلی اومه سکاره دی چی انګار یی زیات پایښت نلری او د تودوخی کچه یی هم کمه ده. لوی معدن یی دغزنی په ناور او یو شمیر واړه نورمعدنونه یی هم د هیواد په بیلابیلو سیمو کی شته.

**ج** – د نفتو او ګازو معدنونه : تر ۱۹۸۰ کال پوری د کشف شوو نفتو ذخیری وړی وی چی داشغال په کلونو کی هم نور نوی معدنونه کشف نه شول. د ګازو زیرمی بیا ستری او دهیواد تر اړتیاوو زیاتی دی چی دننه په کور یی ډیره د اړتیا وړ برخه د کیمیاوی سری په جوړولو کی کاریده او دتسخین او تنویر په چارو کی یی لګښت ډیر لږ دی ځکه چی دهیواد په ښارونو کی لا تر اوسه د ګازیفیکیشن سیستم شتون نلری. څو ورځی وړاندی می په انترنیتی رسنیو کی تر سترګو شوه چی د دی اخیری وروستنیو کلونو د څیړنو له مخی د نفتو زیرمی د پخوانیو په پرتله نژدی یوولس برابره او د ګازو زیرمی نژدی شپږ برابره زیاتی سنجولی شویدی چی دا د خوښی یو زیریٚ دی.

**پنځم - درانده مواد :** داهغه مواد دی چی د خپل مخصوص وزن له مخی یی دروندوالی زیات دی لکه په غوربند او هرات کی د باریټو معدنونه او همدارنګه د سیلستین معدن . دا ډول مواد په ځانګړو ژرندو کی پوډر کوی او په ژورو برمه کاریو کی تری نه کار اخلی.

**شپږم – د مالګی معدنونه :** د هیواد په شمال اندخوی کی د خوړلو د مالګی او صنعتی مالګی ډیر ستر معنونه شته چی د ګاوندی هیوادونو اړتیاوی لا هم پوره کولای شی. له بده مرغه ددی معدنو و ساتنی ته پوره پاملرنه نده شوی او هر کال په رزګونو ټنه مالګه د باران د اوبو سره ځی چی پدی توګه هم مالګه ضایع کیږی او هم کرهنیزو ځمکو ته ضرر رسوی. بل مشکل دادی چی لا تر اوسه وطنی مالګه په صحی ډول د اړین عنصر ایوډین په ګډولو سره بازارته نه وړاندی کیږی، ځکه نو دایران او نورو ګاونډیانو په مالګه د هیواد مارکیټونه ډک دی.

**اووم - ستراتیژیکی مواد:** دهلمند ولایت په جنوبی سیمه خانشین کی د یورانیمو یو معدن شته چی ځانګړتیاوی یی موږ هغه وخت دمحرمو اسنادو په توګه پټی ساتلی .

**اتم – ساختمانی مواد:** دا هغه مواد دی چی ددوی د فزیکی ځانګړتیاوو ستندرد د اړوند نورم سره سمون ولری او په ساختمانی چارو کی تری نه کار واخیستلی شی لکه تیږی، جغل، ریګ او نور. دهیواد په هرګوټ کی دداسی موادو پراخی زیرمی پرتی دی.

**اتم – د توری او رنګه میتالورژۍ مواد:** ددی ډول موادو له ډلی نه اوسپنه او مس په افغاستان کی تر ټولو وتلی دی:

**الف** – د اوسپنی څو معدنونه په افغانستان کی شته چی په بامیان کی د حاجیګک معدن نه یوازی دهیواد تر ټولو ستر معدن دی بلکه د ټولی نړۍ په کچه د لومړنیو خورا لویو معدنو په کتار کی ولاړ دی. ددی معدن ښه والیٚ دادی چی له درو میلیاردو ټنو څخه زیاته اوسپنه نژدی د ځمکی پر مخ پرته ده او تر ځمکی لاندی ټونلونو ته ډیره اړتیا نه پیداکیږی چی دا کار یی اقتصادی ارزښت ور زیاتوی، خو داچی په ډیره صعب العبوره غرنیٚ سیمه کی پروت دی نو دا حالت یی بیا پر اقتصادی ارزښت باندی ډیر منفی اغیز ښندی ځکه چی تر مارکیټ پوری یی د ترانسپورټیشن اورسولو لګښتونه ( دتمام شد قیمت) ور جګوی او د ګټی ونډه یی کموی. ویلای شم چی ددی سیمی د خلګو کورونه اصلا اوسپنیز دی ، ټول دیوالونه یی د اوسپنی له ډبرو نه پورته شوی دی. اوسپنه لرونکی منرالونه په دی معدن کی ماګنیتیت، هماتیت او نور دی. تر ټولو نژدی لاره ومعدن ته د وردګ ولایت د لاری د اونیٚ پر کوتل تیره شوی چی همدارنګه له دنګو غرونو سلسله ده خو د شیبر تر کوتل بیا لنډه او پکار ده چی په پام کی ونیوله


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاریٚ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه:** دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

شی. دابیخی اړینه ده چی تر معدن پوری باید پانګه اچونکی ددغی غرنی لاری نه د اور ګاډی دپاره د اوسپنی لیکه تیره کړی او دا کار سره لدی چی ډیر وخت او لوړو لګښتونوته اړتیا لری، خوبیله دی نه دمعدن نه ګټه اخیستل پر ځای کار نه بریښی ځکه دلاریو موټرانو په مټ یی د کارخانی اکمالاتی چاری او د پخی اوسپنی نقلول یو خوشی او بی ګټی کار دی. د متالورژی کمبیتنات (داوسپنی د استخراج تاسیسات او د ویلی کولو کارخانه) جوړل یی همدارنګه په غرنی سیمه کی ډیر ستونزمن او پانګه خوړونکی چاری دی چی دمعدن پر اقتصادی ارزښت باندی ناوړه اغیز اچوی.

**ب – مس**: د عینک پشان دستر معدن تر څنګ د هیواد نورو واړه معدنونه ددی نړیوال پیژندل شوی معدن تر سیوری لاندی پیکه راځی او سره لدی چی نور معدنونه یی هم په هیواد کی لرو، خو زه غواړم دا ګړی یوازی ددغه معدن په اړه په لږ تفصیل سره و ږغیږم او خپلی یو لړ ډیری جالبی خاطری ددی معدن دکشف په تړاو کی د لوستونکو سره شریکی کړم چی هرو مرو به ورته په زړه پوری وګرځی.

د دریمی برخی پای.

نوربیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ